مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکتر بهیج عثماني ۲۰۲۱/۰۶/۰۸

اولاد سترول څلرویشت ساعته دنده ده،

هوس نه دی

د طلوع تلویزیون په سراچه خپرونه کې د نستوه نادري د مرکې لیدل او اورېدل ټولو ځوانانو، میندو او پلرونو ته ګټور بولم. دا یې لینک د:

https://www.youtube.com/watch?v=FDzHgX913Ak

په دې خپرونه کې ممکن ستاسو پام د ښاغلي نادري کړاو، مظلومیت او بدو ورځو ته ډېر واوړي خو څه چې ما ته مهم ول د دې ټولې غملړلې کیسې تر شا یو پټ داستان دی چې د یوه نومیالي شاعر، لیکوال او ښوونکي او د ادبیاتو د یوې ښوونکې زوی چې تقریباً په یوه بشپړ اکاډمیک چاپیریال کې ستر شوی ولې په داسې لومو کې نښلي؟

ولې د شهرت په اوج کې بیا هم غواړي لا مشهور شي؟ ولې په بهرنیو مجلو، ورځپاڼو او خپرونو کې د خپل نوم په لیدلو دومره خوند اخلي چې ټول بریدونه ماتوي او د نورو د ځورولو له لارې لا غواړي ځان مطرح کړي چې توجه او پام ورته وشي؟

له ښځو څخه د بې‌درېغه نفرت په منځ کې بیا هم د هرې ښځې لمنې ته ورلوېږي او د هغې د عاطفې او مینې ګدایي کوي او تر داسې بریده مخکې ځي چې ورسره پر شرابو څښلو برسېره ښیښه دودوي چې بدني او ذهني وړتیاوې یې لا ډېرې شي؟

په داسې حال کې چې په طلوع تلویزیون کې د بهترین او بې‌جوړې خبریال په توګه یې درناوی کېږي او تقریباً له روښانه خلکو سره ناسته ولاړه لري ولې د توندلارۍ خوا ته لېوالتیا پیدا کوي او په پایله کې په نورین تلویزیون کې د هغو بې‌مانا خپرونو په جوړولو کې خوند مومي چې عموماً په ټولنه کې د مطرحو ښځو د ځپلو لپاره خپرېږي؟

د دې ټولو پېښو تر شا یو عامل دی او هغه ځان ته نه درناوی او له ځان څخه کرکه ده چې ریښه یې له اولادونو سره د مور و پلار چلند ته ورګرځي.

کله چې مور و پلار خپل اولاد ته د هغوی د ژوند په لومړنیو څو کالونو کې د ډېرې بوختیا، ناپوهې او یا بې‌غوري له کبله پوره مینه ورنکړي، له ماشوم څخه بې‌درېغه ډېره تمه ولري او د هرې تېروتنې پر سر یې شخصیت او وجود تر پوښتنې لاندې راولي ورو ورو ماشوم دې پایلې ته رسېږي چې بد او بې‌ارزښته دی. دا حس ورسره د ژوند تر پایه پاتې کېږي. ټول ژوند هڅه کوي ځان تر

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نورو مهم، ګټور، پوه، غښتلی او ... ثابت کړي دا چې له یوې خوا قناعت او مړښت نه وي او له بلې خوا په طبیعي ژوند کې د الوت فرصتونه محدود وي له هر ډول هڅو وروسته مجبورېږي چې درې انتخابونه وکړي:

لومړی: نېشه، جنسي بدلاری او قمار.

دویم: مذهبي، نژادي او ... توندلاري او افراط.

درېیم: ځانوژنه او یا داسې ماجراجویانه او غرغرهیي کارونه چې مرګ پکې حتمي وي .

پایله:

لومړی: ضرور نه ده چې هر نر او ښځه باید مور او پلار شي. که تاسو په ژوند کې دومره بوخت یئ چې ځان ته وخت نلرئ هېڅکله د مور کېدو یا پلار کېدو هڅه مه کوئ. اولاد سترول څلرویشت ساعته دنده ده، هوس نه دی.

دویم: د ژوند په لومړنیو څو کالونو کې خپلو اولادونو ته له کچ ډېره مینه ورکړئ. له نورو سره یې مه پرتله کوئ. ډېرې تمې ترې مه لرئ. هڅه مه کوئ چې اولادونه مو له هره اړخه بهترین او اول نومره وي بلکه کوښښ وکړئ چې اولادونه مو د نورو غوندې عادي انسانان وي. په ژوند کې یې کله ناکامي او کله کامیابي وي. کله ولوېږي او کله پورته شي.

درېیم: د کومې تېروتنې پر سر هېڅ وخت د خپل ماشوم پر شخصیت برید مه کوئ.

څلورم: ځان ته مو حدونه او بریدونه وټاکئ چې ماشوم مو خپل حد او برید وپېژني.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ